


**د افغانستان د ملي خبرو اترو د همغږۍ شورا د خواشینۍ او خواخوږۍ پیغام**

نېټه د اکتوبر 1، 2022

---

**د کایناتو د ستر خالق په نامه**

بیا هم د کابل لوېدیځ د یوې دردوونکې او غمجنې پېښې شاهد و. ترهګرو یو بل نه بخښونکی جنایت تر سره کړ چې د (کاج )په ښوونیز مرکز یې په داسې حال برید وکړ چې تنکي ځوانان د کانکور ازموینې د ورکولو په حال کې وه.

دا ځل یې نه یوازې ځوانې نجونې او هلکان ښکار کړل، بلکې قلمونه، کتابچې، کتابونه او حتی څراغونه یې هم ووژل.

د "یوناما" د شمېرو له مخې، په تعلیمي مرکز (کاج) کې د ځانمرګي برید د قربانیانو شمېر ۱۱۷ تنو ته رسېدلی، چې ۳۵ یې شهیدان او ۸۲ نور یې ټپیان دي.

په دشت برچي کې له خونړي برید یوه ورځ وروسته نن په خیرخانې مینې کې د مولانا جلال الدین بلخي لیسې ته څېرمه چاودنه وشوه.

دا پېښې د کابل په لوېدیځ کې د تېر کال د برید یادونه کوي او د امنیت په را منځ ته راوړلو کې د طالبانو د سرپرست حکومت د کمزورتیا کچه را په ګوته کوي ، چې د ملي امنیت په اړه د دوی ادعاوې تر جدي پوښتنې لاندې راولي.

د ملي خبرو اترو د همغږۍ شورا دغه ستره ،زړه بګنوونکې او خونړۍ غمیزه په کلکو ټکو غندي،د دې ناوړه عمل کرغېړن عاملین او جنایتکاره سمبالوونکي یې د سختې سزا وړ ګڼي.

د ملي خبرو اترو د همغږۍ شورا له طالبانو غواړي چې ژر تر ژره په هېواد کې د ځانمرګو برید کوونکو او نورو چاودنو مخه ونیسي .

همدارنګه له نړیوالو سازمانونو او اروپایي اتحادیې څخه غواړي چې دداسې پېښو په اړه بې تفاوته پاتې نشي ۰

پر ملکي وګړو او په ځانګړې توګه د افغانستان پر راتلونکي نسل دغه بې رحمانه بریدونه د اسلامي ، ملي او نړیوالو قوانینو له نظره په هیڅ صورت د بخښنې وړ نه دي .

دا ډول هدفي بریدونه له علم او پوهې سره دښمني ده ، قومي او مذهبي تربګنیو ته لمن وهي.

د ملي خبرو اترو د همغږۍ شورا د دغه شان دردوونکو پېښو په مناسبت خپل د ژورې خواشینۍ د څرګندولو په ترڅ کې د دغو پېښو د قربانیانو پاک روحونه ښاد او ارامه غواړي ، ټپیانو ته د بېړنۍ روغتیا هیله کوي.

**د خپرونو کمیسیون**

**د افغانستان د ملي خبرو اترو د همغږۍ شورا**